**بسم الله الرحمن الرحيم**
**پوښتنې ته ځواب**
**د خراجي ځمکې وقف**
**(ژباړه)**

يوسف ابو اسلام ته

پوښتنه:

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته!

الله سبحانه وتعالى دې اجر درکړي او ستاسو له علم څخه دې موږ تل ګټمن لري. ښاغلی شيخ صاحب زه دوې پوښتنې لرم: لومړی، د (وقف) لپاره اړينه ده چې يو تن دې د وقف شوي څېز (عين) څښتن وي، دليل يې څه دی؟ دويم، ايا په دې اړه شرعي احکام شته چې له وقف پرته کوم بل څه د عشريه او خراجي ځمکو حالت سره بېلوي؟ الله سبحانه وتعالى دې موږ او زموږ ګوند ستاسو په ژوند او روغتيا سره له برکت څخه ډک لري او ستاسو په لاسونو دې الله سبحانه تعالى امت له دې کړغېړن حالت څخه وباسي.

ځواب:

وعليکم السلام ورحمت الله وبرکاته.

لومړی: په خراجي ځمکه کې د وقف په تړاو د علماوو تر منځ بېلابېل نظرونه شته دي:

۱- له دوی څخه يې ځينې په هغو خراجي ځمکو کې چې هلته ودانۍ جوړې شوي وي يا کروندې شوې وي وقف روا ګڼي. که يو څوک په خراجي ځمکه کې ښوونځی جوړوي، دی يې ښايي زده کوونکو ته وقفوي، يا که يو څوک د بېلګې په ډول د زيتون ونې ايږدي، دی يې ښايي مېوه د بېوزلو او اړو خلکو لپاره وقفوي، په دې شرط چې ياد وقف دايمي وي:

کويتي فقه انسايکلوپيډيا په دې تړاو ليکي:

[ابن عابدين له الخصاف څخه روايت کوي، چې نوموړی وايي: «په بازارونو کې د دوکانونو وقفول روا دي، البته که ځمکه د هغو کسانو په لاس کې وه چې ياد دوکانونه يې د اجرې په بدل کې جوړ کړي وي. دا چې د سيمې حاکم دوی له هغه ځايه څخه نه وي شړلي او موږ ياده ځکمه د ودانۍ د څښتنانو په لاس کې ليدلې وي، بيا دوی په ميراث اخيستې وي او په خپلو منځونو کې يې وېشلې وي. د سيمې حاکم د دوی د ملکيت په چارو کې لاسوهنه نه کوي او دوی نه ځوروي، خو دوی هلته کروندې لري چې حاکم يې له دوی څخه اخلي او دوی ته له پلار او نيکه څخه يادې ځمکې پاتې شوې دي. وختونه تېر شوي دي او د وخت په تېرېدو سره دوی يو پر بل پلورلې دي، يو او بل ته يې په کرايه ورکړي دي او دوی دغه کار په خپله خوښه ترسره کړی دی. دوی ودانۍ جوړې کړې، بيا يې رغولې دي او نورې ودانۍ يې جوړې کړې او په دغو ټولو کې وقف روا دی.» ابن عابدين وايي: «ده په الفتح کتاب کې وقف تاييد کړی دی او دليل يې

د دغې کړنې دوامداره ترسره کېدل په ګوته کړي دي.» که ده په هغه ځمکه کې بڼ (باغ) ایښی و، نو د وقف حکم یې د ودانۍ حکم ته ورته دی. خو که یو چا خاوره یوازې د بېل په مټ اړولې او یا شنلې وي نو بیا د هغه وقف روا نه دی.]

۲- یو شمېر نورو بیا د ګټې (منفعت) پر بنسټ وقف ته اجازه ورکړې ده، ان که هغه ګټه لنډمهاله هم وي. که یو چا کوم کور د یوه کال لپاره په کرایه نیولی وي، دی هغه کور د کرایه خط له قرارداد سره سم هغه چا ته د یو کال لپاره وقفولی شي چې اړتیا ورته لري یا دی بنایي بڼ د حاصلاتو په موده کې اجاره کړي او اړمنو کسانو ته د دغه بڼ د حاصل په موده کې د کرایې د قرارداد پر بنسټ وقف کړي. په دې مانا چې دوی د ګټې پر بنسټ د وقف اجازه ورکړې ده، پرته له دې چې د دایمي ملکیت شرط پکې وي، خو کېدای شي ګټه یې لنډمهاله وي.

دکویټي فقهي انسیکلوپیډیا له مخې: اکثریت (جمهور) حنیفي، شافعي او حنبلي علما د ګټې (منفعت) پر بنسټ وقف ناروا ګڼي، ځکه دوی یو شرط ایښی چې وقف شوی ملکیت باید داسې څه وي چې ګټه یې هم له هغه څخه اخیستل شوې وي او اصلي تومنه یې پاته وي او بل شرط یې دا ایښی دی چې وقف باید دایمي وي. (۱) مالکي فقها د ګټې پر بنسټ وقف روا ګڼي. که یو چا یو کور د یو ټاکلي وخت لپاره په کرایه نیولی وي، نو د ده لپاره روا ده چې په یاده موده کې د هغه ګټه وقف کړي او د کرایه خط د مودې په پای ته رسېدلو سره وقف هم پای ته رسېږي، ځکه د دوی له نظره د وقف دایمیتوب د وقف لپاره شرط نه دی. (۲)

(۱) مغني المحتاج ۳۷۷/۲، شرح منتهی الإرادات ۴۹۲/۲، البدایع ۲۲۰/۶، حاشیه ابن عابدین ۳۵۹/۳...
(۲) حاشیة الدسوقي علی الشرح الکبیر ۷۶/۴ او الشرح الصغیر ۲۹۸/۲ ت: الحلبي.] پای

دویم: یو راجح قول دا دی چې وقف په هغه صورت کې ناروا دی، چې د ځمکې ملکیت (رقبه) په دایمي ډول د هغه چا په نامه نه وي، چې وقف کوي (واقف). دا هغه څه دي چې موږ په دې موضوع کې ورته د صحیح سند له مخې ترجح ورکوو او وضاحت یې په دې ډول دی:

۱- د اساسي قانون د مسودې د ۱۳۳ مې مادې دویمه برخه په لاندې ډول صراحت لري:

«د دې شونتیا شته چې عشریه او خراجیه ځمکې دې د څښتنانو له لوري معامله او په میراث یوووړل شي، ځکه دا اصلي ملکیت دی چې په خپل څښتن پورې اړه لري او د ملکیت اړوند ټول حکمونه پرې پلې کېدای شي. د عشریه ځمکې په تړاو باید ووایو، چې د عشریه ځمکې ملکیت هم د خراجیه ځمکې په څېر دی، خو په دوو برخو کې توپیر لري: لومړی، د شي د نسبت د لرلو له اړخه او دویم د هغه نسبت له اړخه، چې پر یاده ځمکه جبري شوي دي.

د شي د نسبت لرلو له اړخه، ځمکه او کښت دواړه د عشریه ځمکې د څښتن په ملکیت کې راځي؛ په داسې حال کې چې د خراجیه ځمکې د څښتن ملکیت یوازې د همدې ځمکې حاصل دی. په پایله کې ویلی شو، که د عشریه ځمکې څښتن وغواړي چې ځمکه وقف کړي، دی هر وخت له خپلې غوښتنې سره سم د دغه کار اجازه لري. خو د خراجیه ځمکې څښتن دا کار نشي کولی، ځکه که یو څوک یو شی وقف کوي، دا یو

شرط دی چې نوموړی باید د یاد شي څښتن وي او د خراجیه ځمکې څښتن د یادې ځمکې ملکیت نه لري، خو دی یوازې د کښت (حاصلاتو) څښتن دی، ځکه د یادې ځمکې ملکیت په بیت المال پورې اړه لري.

د هغه نسبت له اړخه چې پر یاده ځمکه واجب شوی دی، ۱۰ یا ۵ سلنه پر عشریه ځمکې د پلي کېدو وړ دي. یا په بله اصطلاح زکات پر هغو حاصلاتو راځي چې ځمکه یې ورکوي، په دې شرط چې نصاب ته ورسېږي. پر خراجیه ځمکې د ځمکې مالیه (خراج) هرو مرو پلی کیږي یا بله وینا هغه اندازه چې د دولت له لوري ټاکل شوې ده...» پای. لکه څنګه چې تاسو وینئ، د خراجیه ځمکو وقف جواز نه لري، ځکه وقف د ځمکې د ملکیت شرط ته اړتیا لري او د خراجیه ځمکې ملکیت (رقبه) په بیت المال پورې اړه لري. له همدې امله د یادې ځمکې درلودونکی د همدغه جایداد اصلي څښتن نه دی، بلکې یوازې د کښت (حاصلاتو) څښتن دی.

۲- موږ مخکې د ۲۰۱۹م کال د فبرورۍ په ۱۳مه پر یو موضوع د یوې پوښتنې ځواب خپور کړی و، ښايي ته یې په خپله پوښتنه کې حواله ورکړې چې وايي: «... د بېلګې په توګه، د دې لپاره چې یو شی وقف شي د هغه شتمنۍ ملکیت لازمي او ضروري دی. په پایله کې ویلی شو، که د عشریه ځمکې څښتن وغواړي چې ځمکه وقف کړي، دی هر وخت له خپلې غوښتنې سره سم د دغه کار اجازه لري. خو د خراجیه ځمکې څښتن دا کار نشي کولای، ځکه که یو څوک وقف کوي یو شرط یې دا دی چې نوموړی خپله باید د یاد شي څښتن وي او د خراجیه ځمکو درلودونکی خپله د یادې ځمکې څښتن نه دی، خو دی یوازې د کښت (حاصلاتو) څښتن دی، ځکه د یادې ځمکې ملکیت په بیت المال پورې اړه لري.» پای

۳- د ځمکې د ملکیت حق (رقبه) د دلیل په اړه (هغه اصلي جایداد له کوم څخه چې ګټه په لاس راځي) چې د شرط په توګه وقف ته اعتبار ورکوي او هغه د لاندې ټکو لرونکی دی:

- البخاري په خپل صحیح کې له ابن عمر څخه روایت کوي، عمر ته په خیبر کې یوه ټوټه ځمکه ورسېده. دی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او د دغې ځمکې په اړه یې مشوره ترې وغوښته. عمر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: «اې د الله رسوله صلی الله علیه وسلم ما په خیبر کې یوه ټوټه ځمکه ترلاسه کړې او زه تر دې ځمکې بل قیمتي شی نه لرم. ته ما ته څه حکم کوې چې د دې ځمکې سره څه وکړم؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا وَتَصَدَّقْتَ بِهَا»**

***ژباړه:*** *که چېرې ته وغواړې اصلي ځمکه له ځان سره ساتلی شې او له دې ځمکې څخه صدقه ورکوه.*

نو عمر دا ځمکه صدقه کړه.» دا په دې شرط چې اصل ځمکه به نه پلورل کیږي، نه به چا ته د ډالۍ په توګه ورکول کیږي او نه یې څوک په میراث کې وړلی شي. د دغې ځمکې حاصل به بېوزلو، خپلوانو، د غلامانو په ازادولو، جهاد، میلمنو او مسافرو لپاره کارېږي، البته د دې ځمکې ناظم هم په مناسبه اندازه استفاده ترې کولی شي. همدا ډول خپل ملګري هم ترې مړولی شي، په دې شرط چې نیت به یې د ځان شتمن کول نه وي. ما دا روایت ابن سیرین ته نقل کړ او هغه وویل: «د جایداد حفاظت کول له دې نیت پرته چې ځان پرې شتمن کړي».

ـ البخاري په خپل صحيح کې له ابن عمر څخه روايت کويو چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ژوند کې عمر رضی الله عنه د خپل جايداد يوه برخه صدقه کړه. د خرما يو بڼ و، چې ثمغ نومېده؛ عمر وويل: «اې د الله رسوله صلى الله عليه وسلم! زه يوه ټوټه ځمکه لرم چې زما ډېره خوښه ده او زه غواړم په صدقه کې يې ورکړم. نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**«تَصَدَّقْ بِأَصْلِهِ لَا يُبَاعُ وَلَا يُوهَبُ وَلَا يُورَثُ وَلَكِنْ يُنْفَقُ ثَمَرُهُ»**

***ژباړه:*** *اصل ځمکه په صدقه کې ورکړه، (لکه وقف کول) په دې شرط چې اصلي ځمکه به نه پلورل کېږي، نه به په تحفه کې ورکول کېږي، نه به په ميراث وړل کېږي، بلکې مېوه به يې يوازې صدقه کېږي.*

نو عمر دا ځمکه صدقه کړه.» خاص د الله سبحانه وتعالى د رضا په خاطر د مړيانو ازادولو لپاره، د بې وزلو لپاره، د مېلمنو لپاره، د مسافرو او خپلوانو لپاره. د دې ځمکې ناظم هم په مناسبه اندازه استفاده ترې کولی شي او همدا ډول خپل ملګري هم ترې مړولی شي، په دې شرط چې نيت به يې د ځان شتمن کول نه وي.

ـ همدا راز مسلم په خپل صحيح کې له ابن عمر څخه روايت کوي، چې عمر ته په خيبر کې يوه ټوټه ځمکه ورسېده، دی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او د دغې ځمکې په اړه يې مشوره ترې وغوښته. عمر رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: «اې د رالله رسوله صلى الله عليه وسلم! ما په خيبر کې يوه ټوټه ځمکه ترلاسه کړې او ما ته له دې ځمکې پرته بل ارزښتمن شی نشته، ته يې په اړه ما ته څه حکم کوې؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**«إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا وَتَصَدَّقْتَ بِهَا»**

***ژباړه:*** *که چېرې ستا خوښه وي اصلي ځمکه له ځان سره ساتلی شې او صدقه ترې ورکوه.*

عمر دا ځمکه صدقه کړه.» دا په دې شرط چې اصل ځمکه به نه پلورل کېږي، نه به چا ته په ډالۍ کې ورکول کېږي او نه يې څوک په ميراث وړلی شي. ده زياته کړه: «عمر د دغې ځمکې حاصل د صدقې په ډول فقيرانو، خپلوانو، د غلامانو د ازادولو او مېلمنو ته ورکړ. د دې ځمکې د ناظم لپاره کومه ګناه نشته چې په مناسبه اندازه خوراک ترې وکړي او يا خپل ملګري پرې ماړه کړي البته د ځان لپاره به يې نه ذخيره کوي.» راوي وايي، کله چې ما دا حديث محمد ته ووايه او د (البته د ځان لپاره به مال نه ترې ذخيره کوي) کلمو ته ورسېدم، نو محمد وويل: «د جايداد حفاظت کول، له دې نيت پرته چې ځان پرې شتمن کړي.» ابن عون وايي چې ده، يعنې څوک چې دا کتاب د وقف په اړه لولي، ما ته خبر راکړ چې دغه الفاظ پکې وو: «د جايداد حفاظت کول له دې نيت پرته چې ځان پرې شتمن کړي».

البته د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث د وقف د وضاحت په اړه څرګند دي، چې وقف هغه څه دی چې د ملکيت اصل (يو لورې ته اينودل شوی) په داسې بڼه چې د ملکيت ګټې ته لاسرسی شونی وي او د شي وقفول دې ته اړتيا لري چې د ځمکې ملکيت (رقبه) بايد د وقف پر مهال د هغه چا ملکيت وي، چې وقفوي يې. د بېلګې په ډول وقفوونکی (واقف) مخکې تر دې چې دا شی وقف کړي بايد څښتن يې وي،

ځکه یو شخص داسې یو شی چې د ده ملکیت  نه وي نه شي وقفولی. ځکه دا صلاحیت یوازې د ځمکې خاوند لري چې ځمکه وقف کړي، ځکه دی د ملکیت په صورت کې د شي پوره اختیار لري. نو که چېرې د ځمکې ملکلیت (رقبه) په یو شخص پورې اړه ونه لري، نو دی یې څه ډول د وقفولو اختیار لري؟ عمر بن الخطاب رضي الله عنه د هغه ملکیت څښتن و، چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم په پورته حدیث کې امر ورته وکړ چې یوه لوري ته یې کښېږدي، ځکه ده رضي الله عنه په خیبر کې یوه ځمکه ترلاسه کړې وه. دی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او په اړه یې د هغه مشوره وغوښته. عمر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: «اې د الله رسوله صلی الله علیه وسلم، ما ته په خیبر کې یوه ټوټه ځمکه رسېدلې ده، او ما ته تر دې ځمکې بل قیمتي شی نشته. ته د دې په اړه ما ته د څه کولو حکم کوې؟ یعني، ده رضي الله عنه د دغې ځمکې ملکیت درلود او دا د ده ځمکه وه، یعني دی خپله د دې ځمکې څښتن و. بیا دی راغی او په دې اړه یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نظر وغوښت چې څه پرې وکړي.

پر همدې بنسټ له حدیث شریف څخه څرګندېږي چې د وقف د جواز لپاره لازمه ده وقف کوونکي شخص به پخپله د شي څښتن وي. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په پورتنیو حدیثونو کې فرمایلي وو:

**«...إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا»، «...تَصَدَّقْ بِأَصْلِهِ»، «...إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا»**

***ژباړه:*** *... که چېرې ستا خوښه وي اصلي ځمکه ته له ځان سره ساتلی شې، ... اصل ځمکه په صدقه کې ورکړه، ... که چېرې ستا خوښه وي اصلي ځمکه ته له ځان سره ساتلی شې.*

د خراجي ځمکې ملکیت د مسلمانانو په بیت المال پورې اړه لري، نو د دې ځمکې ملکیت په یوه شخص پورې اړه نه لري. دی یې یوازې د ګټې ملکیت لري، نو دا چې د دې ځمکې خاوند د ملکیت څښتن نه دی، ځکه دا په بیت المال پورې اړه لري، نو  دی به یې څنګه ملکیت ځان ته محدوده کړي؟

۴ـ دا هغه څه دي چې زموږ له نظره صحیح رایه ده او موږ یې د شرعي دلایلو پر بنسټ تبني کوو. یعني دا جایز نه ده چې خراجي ځمکه دې وقف شي، خو دا جایز ده چې وپلورل شي، یو چا ته په تحفه کې ورکړل شي، په صدقه کې ورکړل شي او یا یې بیه صدقه شي او ټول هغه کارونه چې د شریعت له نظره روا دي پر وشي، پرته له «وقف» څخه، چې پخپله د ځمکې د ملکیت (رقبه) شرط غواړي او د خراجي ځمکې ملکیت په بیت المال پورې اړه لري.

درېیم: ستا د پوښتنې په اړه: «ایا په دې اړه شرعي احکام شته چې له وقف پرته کوم بل څه د عشریه او خراجي ځمکو حالت سره بېلوي؟» دې ته ځواب دا دی، چې موږ د خراجي او عشریه ځمکو د حالت تر منځ له دغو دوو شیانو پرته چې پورته یاد شول، بل توپیر ونه موند؛ یعنې هغه څه چې پر عشریه ځمکه واجب ګرځېدلي، هغه زکات دی او پر خراجي ځمکې خراج دی او دویمه موضوع په عشریه ځمکه کې د وقف جواز دی او په خراجي ځمکه کې د وقف عدم جواز.

دا زموږ لپاره تر ټولو راجح نظر او هغه څه دی چې موږ تبني کړي، الله سبحانه تعالی تر ټولو غوره عالم او حکیم ذات دی.

**ستاسو ورور،**

**عطا بن خليل ابو الرشته**

**۲۱ ربيع الثاني ۱۴۴۱ هـ ق**

**۲۰۱۹/۱۲/۱۸ ميلادي**